# کلیمه داره ګروپي

## لیکونکی: عبدالرحمن پژواک

خپروونکی: پژواک بنسټ او کلید گروپ

وږي ۱۴۰۱

لیکونکی: عبدالرحمن پژواک

**د کتاب پېژندنه:**

**د کتاب نوم:** کليمه داره روپۍ

**ليکوال:** عبدالرحمن پژواک

**خپروونکی:** پژواک بنسټ او کليد ګروپ

**لومړی چاپ:** ۱۳۳۷ لمريز، پښتو ټولنه، کابل

**دويم چاپ او انټرنټي بڼه:** ۱۴۰۱ لمريز/ ۲۰۲۲ ميلادي

**مهتمم:** صديق الله بدر

**قيمت:** يک دالر امريکايی

د پژواک بنسټ انټرنټي پته

www.pazhwakfoundation.com

د کليد ګروپ انټرنټي پته

www.tkg.af

## بسم الله الرحمن الرحیم

## کلیمه داره روپۍ

دا یوه خوږه ډرامه ده چې ښاغلي عبدالرحمن پژواک د پښتو ټولنې افتخاري غړي تقریبا شل کاله پخوا لیکلې ده.

په دې ډرامه کې پښتني احساسات، د وطن مینه، افغاني شجاعت او دیني جذبه ډېره ښه تمثیل شوې ده، چې د افغان ملت د نرو او ښځو مړانه او نارینتوب ترې نه په ښه ډول ځرګندېږي.

په کلیمه داره روپۍ کې مادي او معنوي دواړه قیمتونه موجود دي او د دین او دنیا د وصال ډېره ښه نښه ده. په پښتو ادب کښې کلیمه داره روپۍ د ښکلو پېغلو له اوربل سره ډېر ارتباط لري او په همدغه وجه د جمال پلوشه او د عشق خاطره هم پکښې پټه ده. په همدغه سبب دا نوم

له دي قصې سره ډېر ښه ترون لري او ليکونکي د خپلې قصې اساسي ټکي ګڼلي دي.
پښتو ټولنه د دې دپاره چې په پښتو ادب کښې د قصو او ډرامو برخه زياته شي، د دغسې اثارو چاپول ګټور ګڼي او هيله لري چې لوستونکي ترېنه ادبي فايده اوچته کړي او د پښتني جذباتو په روزلو او خوشحالولو کښې ښه برخه ولري.

ګل پاچا «الفت»

دغه مقدمه څه دپاسه اويا کاله مخکې د افغانستان د نوميالي او نوښتګر شاعر او ليکوال استاد اروابناد ګل پاچا الفت په قلم ليکل شوې او د کليمه دارې روپۍ په لومړي چاپ کې راغلې.
په دويم چاپ کې يو ځل بيا ځکه راوړل شوه چې د دغې په زړه پورې ډرامې د ارزښت او پېژندنې په برخه کې ښه بشپړه او هراړخيزه ليکنه ده.

## کلیمه داره روپې

د ډرامې کار کوونکي:

**غرزی:** ـ یو سپاهي

**ځلمی:**- د غرزي زوی

**ګلشکه:**ـ د ځلمي مور

**سنک:**ـ یو زرګر

**سکندر:**ـ د لښکر قومندان

**کاپرفیلډ:**ـ د انګریز د فوج کنډکمشر

**سپایان:**ـ پښتانه، انګریزان

# لومړۍ صحنه

## لومړۍ پرده

## اشخاص: ګلشکه، څلمی، غرزی

د دې صحنــې پېښــې د غــرزي پــه کــور کښــې پېښــېږي، غــرزی چېرتــه ناســت دی. اوبــه غــواړي، ګلشــکه اوبــه ورکــوي، څلمــی چــې اتــه کلــن دی، لوبــې کــوي.

**ګلشکه:** ولې دلګیر یې نن؟
پـه څه غم ګیر یې نن؟

**غرزی:** یاره دلګیر خو نه یم
په غموګیرخو نه یم
خو د ببلتون له لاسه

**ګلشکه:** د چانه ببل یې ته!

**غرزی:** تر اوسه ببل نه یم

خو د بېلتون له بويه

**گلشکه:** خو د بېلتون له بويه

دا څه خبره کوې؟

.........

**غرزی:** بېلتون خو ګل دی کنه

**گلشکه:** د څه شي ګل دی بېلتون؟

زه دې غمجنه کړلم

بېلتون که تانه ګل وي

ما ته د اور سوزل دي

**غرزی:** د غم او درد په باغ کښې

شکر چې نه يې وينې

او نه پوهېږې په دې

چې بېلتون کوم يو ګل دی

**گلشکه:** دغه تور ګل به څه کم

زه دې په غم مړه کړم

اصل مطلب ته راشه

زړګی مې ډک دی زياتې

تېرې مې مه ځوروه
د خدای د پاره یاره
اصل مطلب ته راشه
ولې دلگیر یې نن؟
په څه غم گیر یې نن؟
هغه ستا مینه څه شوه؟
هغه زما هیله څه شوه؟
اوس په بل چا مئین شوې
یاره د خدای دپاره
څه اور دې بل که په ما
څه ټوکه وشوه په ما
ته خو دا هسې نه وې
زر شه خبره کوه!
(او ژاړي)

**غرزی:** ارماند، ارماند، ارماند
افسوس، افسوس، افسوس
څه بدگمانه شولې

مه ژاړه ځان به مړ کې
زما وفا ډېره ده
اوښکې دې مه تویوه
زړګی مې مه ځوروه
ته سمه کېنه زړګی
پښتنه کله ژاړي

**ګلشکه:** زه سمه ناسته یمه
خو ته خبره وکه
زړګی مې ډک دی زیاتي

........................

**غرزی:** خبره دا ده چې ما
سبا جګړې ته لېږي
د انګریز جنګ نښتی
که هلته ووژل شم
او تا ونه وینم زه
ارماند په زړه به ولاړ شم
د خاورو لاندې به پروت

او ستا په ياد کښې به يم
د وينو ډکې سترګې
او د سرو شونډو ارماند
دغه بېلتون مې ښوده
(ګلشکه اوښکې وچوي او خوشحاله کېږي)
دا خو ښادي شوه کنه
يا به غازي راپې شي
يا به شهيد سردار يې
زه به په جګو سترګو
قام او تربور ته ګورم
ته به په هسکه غاړه
جنت کښې ګرځې واړه
دا نو ده غم.........
دا نو ده غم.........
دا خو ښادي ده کنه
**غرزي:** ياره رشتيا دې ووې
دا ستا له سترګو جار شم

زړه مې ډاډه شو زياتې
ټوپک مې راکه چې ځم
چې غير حاضر نه شمه
دغه پيسې در واخله
خرڅې د کور په واخله
خدای دې وي ستا ساتونکی
که چېرته مړ شومه زه
دعا کوه راپسې

**گلشکه:** خدای د هر چا يار دی
زړه دې ته مه غورځوه
زه به څرخي کومه
ځان ته به خرڅ گټمه
(ټوپک ورکوي)

**غرزی:** ځلميه راشه زويه
(ځلمی راځي پلار يې ښکلوي)

**غرزی:** گلشکې ته: هغه روپۍ به ساتې

**گلشکه:** جانانه کومه روپۍ؟

کلیمه داره روپۍ؟

**غرزی:** هو! هو!

کلیمه داره روپۍ

**گلشکه:** په مخه دې ښه شه

**غرزی:** په خدای مې سپارلي یاست

(وځي او د ور څنګ ته پټېږي)

(گلشکه یوازې دعا، او په ملي لنډیو زمزمه کوي)

مولا دې تا لري خوشحاله

که زما عمر په ضرور وي تېر به شینه

په تور ټوپک ویشتلی راشې

د بې ننګۍ غېږ دې رامشه له مرچله

په تور ټوپک ویشتلی راشې

چې پر هارونه دې ګنډم خوله درکومه

(غـرزی سـندره اوري.... د مینــې پــه جـوش ورننوځــي گلشـکه حیرانیــږي، غـرزی غیــږ ورتــه کـوي او پــه مینــه مینــه یــې چپـوي او د مینــې اثـرات د دوی د خـبرو اهنـګ بدلـوي)

**گلشکه:** دا څه حال دی خالقه
ماسکه ویلې چې ته لاړې
**غرزی:** چې یې غواړې ته پرې واوړې
دغه شی وه چې ما غوښت
زه همدې ته منتظر وم
د دې سپینې خولې دې جار شم
اوس رخصت راکه چې لاړ شم
**گلشکه:** ځه په مخه دې رښا
**غرزی:** په خالق مې یې سپارلی
(غرزی روانیږي گلشکه ورپسې غږ کوي)
که تور اوربل مې میراتیږي
ننگ د اسلام دی جانان نه منع کومه
جانانه جنگ نه په شا نه شې
چې د همځولو راله نشي پیغورونه
(پرده لویږي)

## لومړی صحنه

**دویمه پرده**

**اشخاص: غرزی، د غرزي يو انډيوال چې د ده څنګ ته روان دی، منصبدار پلټن**

(غرزی د مارش په وخت کښې دا په زړه کښې تېروي)

**غرزی:** ياره خولنډه دا ده
د دې له خولې نه جار شم
ما ويلي څنګه به شي
زه به جګړې ته ووځم
دا به په اوښکو ناسته
د بېکسۍ نه ژاړي
زه به په وينو کې سور
مساپرۍ کښې مړ شم

خبر مې نه لرلو
چې د نر لور به ماته
ننگ و غیرت رانښیي
یاره نو څرنګ یې زه
لاس او پښې چپ نه کم
دا خو د خدای لار نه ده
ښه څنګه یې ویلې ماته
ولې دلګیر یې نن؟
په څه غم ګېر یې نن؟
نېکبخته نه پوهېده
چې زه د دې په غم وم
**یو بل سپاهي:** غرزیه وروره څه کړې
پښه دې شوه غلطه
ته په څه چرت کښې یې نن
ولې سودا کښې ډوب یې
نن د ښادۍ ورځ ده
د کاپر جنګ ته روان

دومره سودامه وهه
په ځلمیتوب به شي زوړ
که دي په زړه کښې څه دي
یاره خبرې مه کړه
نن خو عجیبه ورځ ده
د لوی اختر نه والله
چې نن خوشحاله یمه
بیا هم بنده عاجز دی
د دنیا ډېر غمونه
زړه ته سودا اچوي
سحر خپه وم خو اوس
د خوشحالۍ له لاسه
په چرتو ډوب یمه زه
**سپاهي:** یاره رښتیا دې ویل
هغه لنډۍ ده کنه
.......... فکر کوي
**غرزي:** کومه لنډۍ ده وروره؟

**سپاهي:** هغه لنډۍ څه نه ده؟
اوس مې په زړه وه والله
داسې ترې تمه شوه

**غرزی:** ستا چرت هم ښه خو نه دی
که مې دروغ ویلي
.....................

**سپاهي:** نه والله داسې نه ده
نن د ښادۍ ورځ ده
یو وارې زړه ته راځي
د لین نه وځه ګډ شه

**غرزی:** ښه څه لنډۍ وه هغه
هغه مضمون يې وایه

**سپاهي:** مضمون یې غم دی
و د دې .........«فکر کوې»

**غرزی:** دغه مصرع به نه وي؟

**سپاهي:** کومه مصرع به نه وي

**غرزی:** دنیا د غم په ورځ پیدا ده

کم عقل خلک پکښې ماڼۍ ابادوینه

**سپاهي:** په هغه پلار دې رحمت

(منصبدار د سکوت امر ورکوي، بولي وايي. سپايان گرده چيږي)

«پرده لوېږي»

# لومړۍ صحنه

## دریمه پرده

## اشخاص: گلشکه، ځلمی

(د دې صحنــې وقایــع د غــرزي پــه کــور کــې پیښــېږي، گلشــکه ناســته ده او څــه شي گنــډي، ځلمــی چــې څــو لحظــې مخکښــې بهــر وتلــی و راځــي)

**گلشکه (ځان سره):** عجبه ټوکه وشوه

د خدای نه جار شمه

هغه خدمت ته ووت

دا څو روپۍ هم چې شته

چې ډېرېږي وچلېږو

ځه! دا څلور میاشتې

که تر هغه دی راشي

خو لا یوه خبره
که چېرته څنډ شي نو بیا
................«فکر کوي)
څه خو بلا راپسې
ځلمي غریب ته ګوري
یو لوېشت هلک و
.....................
ښه! څه یې ویلي راته
................(مکث کوي)
اوښکې دې مه تویوه
زړګی مې مه ځوروه
پښتنه کله ژاړي
د ده د برېتو جار شم
.................
څه! رب دې خیر ور پېښ کي
تنګسي به تېره شي خو
...................

چې دی غازي شي یو وار

.............

زه به کومه ځرخي

خرځی به کمه پیدا

.................

خدای دې په خیر راولي

خدای دې غازي راولي

خدای دې مېړه راولي

د جګو سترګو سره

په دنیا...............

(ځلمی ننوزي، د ګلشکې خیالات بدلېږي)

**ځلمی:** موري پښې مې نشته

پلار چې مې راغی بېګا

ارو مرو به ما ته

پښې په باندې اخلې

سبا چکړې کېږي

زه پښې ابلی ګرځم

زه خو............

**ګلشکه:** ښه مور دې ځارشه ځویه

**ځلمی:** جواری دې چېرته ایښی

**ګلشکه:** هلته تاخچه کښې واخله

سرسبیلي مه کوه

هر سات د باندې مه ځه

چې زه یوازې یمه

زړګی مې چوي له غمه

**ځلمی:** هو! هر سات د باندې مه ځه

زه نو هم ښځه شمه

والله که یو سات کښېنم

ټول بهر مستي کا

زه به کاله کې کښېنم

د چا بندي خو نه یم

نر غوندې باندې ووځم

والله که څوک مې ستون کي

.......................

(ځلمـی وځـي، د جـواري کنـډک يـې پـه لاس کـې دی او خـوري يـې)

**ګلشکه:** زه وايم غم غلط شي

دی وايي ښځه نه يم

.................

(سـتن يـې لـه لاسـه لوېـږي، سـتن اخـلي تـار پـه کـې اچـوي)

(پرده لوېږي)

## دویمه صحنه

**اوله پرده**

**اشخاص: د فوځ قوماندان (سکندر خان)، سپایان....**

**سکندرخان:** زما گرانو ورونو!

یو کال تېر شوی چې مونږ

د سرحد غرو کښې پراته

د دښمن پته نشته

د دښمن حال دی معلوم

د جگړې پته نشته

لکه چې مونږ تیاری

کړی پراته یو ورته

هغوی به هم مصروف وي

نن یو مخبر راغلی

وايي انګرېز خوځېږي
نو ما راوغوښتلئ
چې جنګ نژدې راغلی
ځانونه ښه تيارکئ
ورته ملا وتړئ ټول

................

ګورئ غليم کاپر دي
مونږ مسلمان يو شکر
د دين، دولت خدمت ته
د زړه نه ملا وتړئ
پېغلې کورو کښې ناستې
مونږ ته يې سترګې په لار
ننګ او ناموس د وطن
په خطره کښې دی پروت
مېړه چې تاو کې برېت
او بيا د مرګ پروا کړي
د ښځو کار نو کوم دی

بایده دي دا چې مونږه
له ژونده لاس ومینځو
کاپر چې مات نه کړئ
مسلم به څرنګه وئ
زمونږ د رسول په وخت کښې
یو مسلمان لس کاپر
سره میدان ته وتل
بری به و د مسلم
ښه څه معنی لري دا
ایا زمونږ څه کمی دی
چې هم مسلم هم پښتون
یو د ځښتن شکرونه
ځانونه مړه کئ په دین
او د وطن په ناموس
چې جګې سترګې ولاړشئ
یا خو بې ننګه سترګې
د خاورو لاندې ښې دي

له پښتنو نه پټې

**سپایان په یو آواز:** په سر او سترګو صاحب!

**سکندر:** اوس یو سړی دی په کار

چې شي اول پهره دار

او ځان په مرګ ونیسي

چې د دښمن په راتګ

ړومبی خبر کاندي مونږ

څوک به دا کار په غاړه

واخلي د دین او وطن

د سر لوړی د پاره

**سپایان په یووارې:** مونږ ګرد حاضر یو صاحب!

**سګندر:** شکر الحمدالله

لکن فقط یو سړی

(غرزی دلین نه ووځي تعظیم کوي او وایي)

**غرزی:** په مرچل هاغه سړی خیجي

چې یا مین وي یا یې پېغله ناسته وینه

دا کار زما تر غاړې

ماپه کاله کې ویلي
چې بې بري نه راځم
اوس مو نو خپله خوښه
دغه زما هیله ده
ما ډېرې غورې کړې
صاحب د خدای په خاطر
دغه کار ماته پرېږدئ

**سپایان خپل منځ کښې:**

صاحبه ته پخپله
چا ته چې وایې ځې به
مونږ گرد د دې دپاره
راغلي یو چې خپل ځان
په دې خدمت کړو قربان

**سکندر:** اختیار زما دی وروښو!

**سپایان:** هو، اختیار دی ستا صاحب!

**سکندر:** ماخو هم دی خوښ کړی

**سپایان:** باکل صحیح ده صاحب

اطاعت، اطاعت

**سکندر:** ځه! لاړشه پټ به کښېني

مرچل ژور وکینه

دښمن چې راغی زیاتي

ګلچین به یې ولې تر څو

چې مونږ رسېږو درته

................

(سکندرخان حد، حدود ورته ښيي، لازم هدايات ورکوي، غرزی تعظیم کوي او له اندېوالانو سره د خدای په آماني نه وروسته روانېږي)

## دويمه صحنه

### دويمه پرده

### اشخاص: غرزی، کاپر فيلډ، شپږتنه انګرېزان

(د دې صحنې وقايع د يوې غونډۍ په پای کښې پېښېږي، غرزی کلنګ په لاس کښې مځکه کني، تېږې ټولوي او مرچل جوړوي: زمزمه کوي:)

**غرزی (د ځان سره):**

که سړی ډېر په زړه محکم وي
چې يې آشنا په زړه راځي ژړا ورځينه
مخ دې قمرلب دی ګوهر دی
زما صبر دی په ژړا درپسې مرمه
زياتې راځه دښمنه
په انتظار دې مړ کړم

وينې خوتېږي زما
راځه میدان ته ووځه

......................

ته به سکه وایې چې زه
ځان ته مرچل جوړوم
ځان ته مې قبر سازکه
ګور خو همداسې خوند کړي
چې پخپل لاس یې جوړ کړې
یا خو به توره وکړم
یا به مې مور شي بوره
خدایه ژوندی دې نه یم
چې.............

(شاوخوا ته ګوري، مخې ته یې لوی ډاګ پروت دی، سپاره ویني)

والله چې راغله تېرى
ټوپکه ځان تیارکه
پنځه او شپږ تنه دي

په اسو ټول سپاره
مرګي يې ژر راولې
څمه مورچل کښې کښېنم
چې لږ نږدې راشي
چې په هغې لاړ شي
ضرور په همدې راځي: ها
..................
يو منصبدار دی پکښې
دا خو والله که مړ کم
ولې يې ژوندی نه نیسم
که چېرته سخته راغله
خدای دې يو هم نه پرېدي
خو دا به ښه ټوکه وي
چې يې ژوندی ونیسم
پېغلو خوشحاله اوسئ
ارماند مې ووت زیاتې
................

(د انگرېـز کشـافان نـژدې کېـږي، شـاوخوا تـه گـوري، خپـل منځکښـې وايـي:)

**کاپر فیلډ:** په شاوخوا کښې هېڅوک
نشته تر دغه ځایه
دا پښتانه ویده دي
فتحه زمونږ ده وړوکو
زما خبره منئ
ما ډېر جنگونه کړي
د تجربې نه وایم

(د سلو قدمونو په فاصله د غرزي مورچل ته رسېږي)

**غرزی:** اوس یې نو وخت دی زیاتي
ربه ایمان ته مو خیر

.............................

(ډزې کـوي...... یـو دوه درې انگریـزان لـه اسـونو لوېـږي)

**کاپرفیلډ:** گورئ چې ونه ډار شئ
فقط یو کس دی دلته

ورسره نشته بل څوک
ځانونه کلک کړئ په آس
ګورئ سړی مینده کئ
**غرزی:** ربه ایمان ته مې خیر
(فیر کوي، دوه تنه نور لوېږي)
**کاپر فیلډ:** زمونږ یې قتل وویست
ګورئ چې ونه ډارشئ
فقط یو کس دی دلته
(انګرېز د غرزي مورچل ویني)
دغه دی دلته ناست دی
صاحبه دلته داخوا
....................
**غرزی:** راځه، راځه له خیره.....
(فیر کوي... انګرېز لوېږي)
**کاپر فیلډ:** خبره ښه نه شوه اوس
راځه چې تښتم زیاتي
**غرزی:** ځان دې ونه ښوروې

که نه ګولۍ درغله
ډزې دې ډېرې کړې
د تجربې نه پوه شه

**کاپرفیلډ:** د خدا دپاره یاره!
زه خو تش لاس ولاړیم
(........ تومانچه غورځوي)
چې لاس خطا نه کړې نو
..................
یو وارې وړاندې راشه
یو څو خبرې کوم
زه خو دې لاس کښې یم اوس
درنه خو چېرته نه ځم

(غـرزی وړانـدې کېږي، تومانچـه جګـوي، کاپـر لـه آسـه لانـدې غورځـوي)

ښه څه دې ویل راته؟
که ما وژلې چېرته

سر کښېږدې مې ته ویشتلې!

**کاپر فیلډ:** خبر دا ده چې زه

تاته پیسې درکوم

لاکن چې ما خوشی کې

طلا به درکم ډېرې

چې په ژوندون دې بس وي

او د ناموس دې وشي

......................

**غرزی:** خومره طلا راکوې

**کاپرفیلډ:** زر انګریزي پونډونه

**غرزی:** رایې کړه زر چې اوس

زما ملګري راځي

زما د ډزو اواز دی رسېدلی ورته

(کاپرفیلـډ د زیـن شـاته اوړي او پونډونـه راوبـاسي) او وایـي:

ډېر طالعمند سړی یې

ګټه دې وکړله ښه

(غرزی طلا اخلي)

**کاپر فیلډ:** اوس مې نو پرېده چې ځم

........................

**غرزی:** زه به ایمان خرڅوم

..............

راځه چې ځو افسر ته

چابک سه مه درېږه

(د کاپرفیلډ رنګ زېړ اوړي)

**کاپر فیلډ:** د خدای د پاره وروره!

پښتو خو داسې نه وي

**غرزی:** زما پښتو همدا ده

روان شه مه درېږه

دغه دی ومې ویشتې

(کاپرفیلډ روانېږي..... سکندرخان او یو ټولی مختې ته ورځي)

**سکندرخان:** څه چاره وه زر ووایه

دا ډزې تا وکړې

دا ټوپکونه د چا دي

او دا اسونه د چا

...................

دا منصبدار انګرېز دی

.............

دا دې له کومه که ها

**غرزی:** صاحبه شپږ مې مړه کړل

یو مې ژوندی ونیوه

دغه طلا یې راکړې

تاسو پوهېږئ او دا

.................

(سکندرخان له اسه کوزېږي او غرزی ښکلوي) شاباس په پلار دې رحمت

مېړونه دارنګه وي

د پښتو ننګ شو په ځای

(کاپرفیلډ ته) ستا رتبه څه ده وایه

**کاپرفیلډ:** د کشافانو افسر

**سکندرخان:** چې په خير ورسېدې
زمونږ عزيز مېلمه يې
هلکه دا به بيا يې
هلته خيمه کښېږ به وي (غرزي ته)
اوس به په ځرنګه زه
ستا زړه خوشحاله کمه
.................
دا طلا څو دانې دي
............
**غرزی:** صاحبه! زر مې په شمار
ترېنه اخيستې والله
ويلي چې ما خوشی که
ما ويلي ښه ده په څه؟
ويلي طلا به درکم
چې طلاګانې يې راکړې
ما ويلي اوس نو راځه
......................

(سکندرخان وړاندې کېږي او بيا يې ښکلوي)

طلا دې ستا وي او دا

د انګريزانو افسر

وي دي زما په برخه

...............

خو دا طلا بدلې

نه وي ډاربږم والله

(پـه خپـل وخـت بيـا طـلا کتـل کېـږي او معلومېـږي چـې ټـول ښـه اوصـاف پونډونـه دي چـې يـوه قلپـه هـم پکښــې نشــته)

اوس نو يوه خبره

درته کوم که اورې

خو ګوره امر نه دی

که وي ستا خپله خوښه

يوه طلا سړي سر

په دې کنډک وويشه

زياتې دې ستا خپلې وي

**غرزی:** په دواړو سترګو صاحب

**سکندرخان:** دا تمانچه دې ستا وي

چې زه مرکز ته لاړم

فرمان به واخلم درته

نښان به درکړل شي

چې منصبدار شې زیاتي

خدای دې خیرونه درکړي

**غرزی:** تعظیم کوي.....

(طلا په سرو وېشي اوه سوه دانې ده ته هم پاتې کېږي)

**سکندرخان:** دا آس دې هم ستا وي

نور به ته ما سره یې

او سور به ګرځې همېش

**غرزی:** (تعظیم کوي)

(د شپې انګریزان رارسېږي، جنګ کېږي او ټل فتحه کېږي، عسکر مراجعت کوي، سپایان کورو ته ځي.)

(پرده لوېږي)

## درېیمه صحنه

**لومړۍ پرده**

**ګلشکه او څلمی د غرزي په کور کښې)**

**څلمی:** موري والله چې زه مرم

تر څو به وږی ګرځم

یوه ګوله.......

مړی.......

تر څو به

وږی.......ګرځم

**ګلشکه:** بچیه مه ژاړه ته (اوښکې یې وچوي)

د مور د سترګو توره (لاس ورباندې راکاږي)

چوپ شه ژړا ښه نه ده

.....................

اوس که دباندې لاړ شې
همزولي خاندي په تا

...............

خیر دی بچیه خیر دی
یو ساعت ځان مشغول که
نو بیرته راشه زه به
یوه چاره وکمه
چې نس دې موړ شي څه نو

**ځلمی:** هن، پرون دې هم دغسې
وغولولم چټې

**گلشکه:** څه! نن دې نه غولوم

(ځلمی ووځي، گلشکه یوازې په کوټه کښې پاتې کېږي)

**گلشکه (ځان سره):** ښه خدایه اوس به څه کړم
دا پوره دوه شپې وشوې
چې زه په ناري ناسته
خپله مړی ځلمي ته

پرېدم چې وړی نه شي
اوس چې هغه هم نشته
څه چاره وکمه زه
پرون مې وغولاوه
چې د شپې موږ اوده شي
اوس به يې څرنګه کړم؟
پلار يې دی تللی جنګ ته
خاوند دې مل شي دده

.............

ښه نو دې حال ته ګوره
تر اوسه ګنډه ګونډه
ايسته رايسته کېده
يوه ګوله مړی به
رابودېدله راته
اوس خو هغه هم زياتي
راباندې ودرېده

.................

**ځلمی:** ننوزي

دغه دی راغلم مورې

(د گلشکې رنگ سپین گرځي او غړي يې تښتي)

**ځلمی:** دغه دی راغلم کنه

(گلشکه په چرت کښې ډوبېږي، دا لاندې خبره يې په زړه کښې تېرېږي)

(گلشکه په چرت کښې) نور نو هيڅ نه لرمه

بې له يوې روپۍ نه

کلمه داره روپۍ

کليمه داره روپۍ

کليمه داره روپۍ

................

کليمه داره روپۍ

کليمه داره روپۍ

...............................

(د سترگو نه يې اوښکې تويېږي)

په هغه وخت کښې چې زه

یوه بېکسه پېغله
مینه شومه په تا
غرزیه چېرته گرځې
................
اوس به په کوم مورچل کښې
پروت یې له مانه لېرې
تا وو یلي راته
چې دا زما ننبه ده
دا به تر عمره ساتې
............
هو! دا راکړې وه تا
...........
(ځلمـي چـې د مـور اوښـکو تـه گـوري، پـه ژړا پیـل کـوي او پـر مـخ یـې لوېـږي)
کلیمه داره روپۍ
دا به تر مرگه ساتې
.............

**گلشکه:** اوس چې ځلمی د لوړې

مري نور څه وکمه

..........

ښه که دا خرڅه کمه

او ته ژوندی رانشې

ستا به په نښې پسې

..............

کلیمه داره روپۍ

...........

خدای خو دی لوی ساتونکی

تا به ژوندی راولي

.............

چې اوس مې زوی مړ نه شي

(ځلمی لکه چې د ماشومانو عادت دی ویده کېږي)

له تا نه عفو غواړم

په هیله مندو سترګو

او ستا بخښښ ته ګورم

بله چاره نه لرم

ځلمی............

کلیمه داره روپۍ

(له چمتې نه روپۍ راباسي او بې اختیاره ژاړي)

ځلمیه! وه ځلمیه!

څنګه وده دی غریب

سر دې راجګ که واخله

کلیمه داره روپۍ

اوس خو یې پرېږده!

(ځلمی په خوب کښې غږېږي)

**ځلمی:** (په خوب کښې) ابا سترې مشې

چې په خیر راغلې

وی ........

(جزوهي)

**ګلشکه:** بسم الله (اوپاڅېږي)

زویه راجګ شه پاڅه

زرګر دکان ته لاړ شه

دا روپۍ ورکه ورله
پیسې ترې واخله پوه شوې؟
چې اوږه واخلم درته
...........
**ځلمی:** دا دې د کوم ځایه کړه!
(روپۍ اخلي او په منډه ووځي)
**گلشکه:** وئ! وئ
خاورې مې به سر شوې
ځلمیه! ځلمیه
بیرته راوگرځه
روپۍ بیرته راکه
ته ښه یې که د هغه ښښه
ځلمیه! وه خلمیه!
ځلمیه! وه خلمیه!
(په بام خېژي)
(پرده لوېږي)

## درېیمه صحنه

### دویمه پرده

### د دې صحنې وقایع په بازار کښې پېښېږي، ځلمی دسنګ دکان ته ولاړ دی

**ځلمی:** دغه روپۍ در واخله

میده پیسې راکړه

**سنک:** ښه ده کنه

(یوڅه پیسې ورکوي او څه پاتې کېږي)

(غـرزی پـه صحنه کښـې داخلیـږي، د زرګـر دکان ته ګـوري او پـه زړه کـې وایـي)

ګوره څه ښې ګاڼې دي

راځه چې څه خو واخلم

چې په تش لاس ورنشم

زړه به یې لږ خوشحاله شي

ښځې ګاڼه خوښوي
غریبه ناسته په کور
خدای زده چې څه تصور
کوي د ځان سره اوس
خبره نه ده چې زه
په سلامت راغلمه
د دې د زړه دپاره
یمه زرګر ته ولاړ
ګاڼې اخلم......
(د کان ته نژدې کېږي او ګاڼې اخلي)
**سنک:** هلکه! ته یو ساعت
هملته ودرېږه
چې زه دې کار نه خلاص شم
بیا به پیسې درکمه
**غرزی:** وروره دا دې زوی دی
که دې شاګرد نیولی
ځلمی نه پېژني)
**سنک:** نه بابا هېڅ مې نه دی

یوه روپۍ یې راوړه

**څلمی:** کاکا ته زر شه چې زه

د لوړې مرمه په خدای

زرمې پیسې راکړه

چې ځم وړه پر اخلم

**غرزی:** څه خېل روپۍ ده ستا؟

**څلمی:** کلیمه داره روپۍ

**غرزی:** دا دې د کومه کړله

**څلمی:** د مور چمتي کې مې وه

**غرزی:** لکه چې پلار نه لري

**څلمی:** له مور او پلار سره مې

د تا څه کار دی کاکا

(زرگر ته)

کاکا ته زر شه کنه

(غـرزی یـوه طـلا زرگـر تـه ورکـوي او روپـۍ په عوض کنبـې اخـلي او څلمـي تـه یې ورکـوي.)

**سنک:** وروره! دا څه خیرات وو

**غرزی:** د هر چا ښځه او زوی

په کور کې او کلي کښې شته

کلیمه داره روپۍ

ته ورله بیرته ورکړه

(ځلمی روپۍ بیرته اخلي او کاله ته ځي او د غرزي هم کار تمامېږي او ور پسې روانېږي)

**ځلمی:** شاته ګوري چې غرزی ورپسې دی)

کاکا روپۍ دې بیرته غواړې

**غرزی:** ولې به یې بیرته غواړم

**ځلمی:** نو څله راځې

**غرزی:** ځما کور هم دې خوا دی

(یوځای روانېږي تر څو چې په یوه دروازه کښې د ر ېږ ي )

**ځلمی:** د خدای په امان

(په دروازه ننوزي)

(غرزی چې د ده د ننوتلو څخه په حقیقت پوهېږي، غږ ورته کوي ځلمی چیغه وهی، مور یې راووځي، یو بل سره وپېژني )

(پرده لوېږي)



۱۲۹۸ - ۱۳۷۴

Pazhwak Foundation Inc.
بنیاد پژواک

کلید
TKG
THE KILLID GROUP